الصرف ام العلوم والنحو ابوها

یعنی د صرفو حیثیت په علومو کښی د مور غوندې
دې او نحوې حیثیت لکه د پلار غوندې دې

دعلم النحو متعلق اولنۍ دنحوې پښتو منظوم کتاب

# قواعد النحو

## (منظوم)


تصنیف

مولانا احمد علی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوری ټاؤن کراچی

تقریظ

استاذ العلماء والشعراء

مولانا محمد ابراهیم فانی

استاد دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ضلع نوښهره



مکتبة عشرة مبشرة

0300-4175026

دَ علم النحو اهم ضروری قاعدي په شعرونو کښې

# قواعدُ النحو

( منظوم )

لیکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعۃ العلوم الاسلامیہ علامہ محمد یوسف بنوری ٹاؤن کراچی

ناشر

**اسلامی ادبی ټولنه**

مردان خیبر پختونخوا

بسم الله الرحمٰن الرحيم

# تمهيد (وړومې ليك)

لويه خدايه! صفتونه ستا دَ ذات دی
تاته هرڅۀ مخامخ دَ کائنات دی
ستا نه پټ نۀ دے دُنيا کښې يو بشر
هريو څيز باندې پوره دې ستا نظر
مخلوقات درته تمام دلته محتاج دی
مخلوقات درته مدام دلته محتاج دی
يو معبود دَ ټول جهان دَ هرانسان ئې
مالك يَو په کائنات دَ هر مکان ئې
نۀ والد ئې نۀ وَلَدْ ئې داسې ذات ئې
لاشريکه يك تنها په کائنات ئې
پيدا کړی رسولان دې دَ جهان دی
تا ورکړی کتابونه عاليشان دی
له آدمؑ نه شورو کړې سلسله تا

بنده کړي نن ده هغه دروزاه تا
ختم شوي نبوت په محمد ﷺ دے
ختم شوي رسالت په محمد ﷺ دے
پوره شوي دا عظيمه سلسله ده
پوره شوي دا عظيمه ګلدسته ده
نازل شوي په حضورؐ کامل کتاب دے
هريو ټکی سره هغه لاجواب دے
دَ قرآن زده کړه لازم په مسلمان ده
وسيله دَ کاميابي په دي جهان ده
عجميان چي زده کوی کله قرآن
دَ ګرائمر په اُصول دلته وی روان
دي سره دَ قرآن زده کړه وی اسانه
زده کړه دغه تول اُصول له ابتدا نه
نحو اهم هرطرف ته په هر لور ده
تذکره ئي په علوم کښي سَم مُور ده
ځکه اهم ضروري ئي پيژندل دی

دي سره دَ عربي تمام ليکل دي
دَ ګرائمر زده کړه لازم ده عربي کښي
فائده نورې هم لرې دا زندګي کښي
بيان شوې دلته کښي هغه اُصول دي
دا تمام په عربي کښي ښهٔ مقبول دي
دَ قرآن په زده کړه کښي دا پکاريږي
چې اُصول ورته معلوم نو پوهيږي
دَ قرآن زده کړه لازم په هر انسان ده
دَ قرآن زده کړه رنا دَ هر مکان ده
ګرانه نهٔ ده دَ قرآن زده کړه عرب له
دا بنُياد دے زمونږ دين لره مذهب له
عجم دا هم زده کوي په کائنات کښي
شامل زده کړه دَ قرآن ده عبادات کښي
صرف او نحو سره زده کړه ددې کيږي
ورسره عربي ژبه اسانيږي

........

# باب اول

## لفظ نحو لغوی معنیٰ

لفظ دَ نَحْوِي چې حاضر شی عدالت کښې
يو نه زياتې ئې معنې شی په لغت کښې
په طرف دَ ارادې راتلې شی نَحْوَ
کله کله دلته دا ليدې شی نَحْوَ
کله کله د نَحْوَ معنیٰ به نيت وی
کله کله په معنیٰ دَ فصاحت وی
په معنیٰ دَ لار راتلې هم په جهان شی
نوع معنیٰ ئې کله کله را عيان شی
دا معنې د نَحْوِي ذکر په لغت دی
ذکر شوې تل په وخت دَ ضرورت دی

## اصطلاحی معنیٰ

نَحْوَ نوم دَ څۀ اُصولو قوانين دے
هر يو تکې په دې سره ښۀ حسين دے

کلماتو کښې دَ جوړ حسين اُصول دي
يقيني دي هرطرف ته بنۀ مقبول دي
اعراب څۀ لرې اٰخر؟ چې کلمه ده
معلومولو لره پوهه طريقه ده
دَ اٰخر به څۀ حالت يا کيفيت وي
دا بيان نَحُوَ کښې هرخواهرساعت وي

## دويم انداز دَ تعريف

نَحُوَ نوم دَ عربي دَ قوانين دے
دَ اٰخر حرکت دَ پاره جوړ اٰئين دے
کَلِمَه کښې په اٰخر دے څۀ حرکت؟
معلوميږی په دي علم هر ساعت
نوعيت هم معلوميږی دَ اٰخر
اسم فعل يا په حرف کښې برابر
جوړ راځی ورسره تل په کلمات کښې
زمونږ ډير زيات پکاريږی کائنات کښې

# موضوع دَ علم النحو

دَ كلمې سره په هر طرف كلام
دا موضوع دَ نحوې ده په هر مقام
دوه قولونه علاوه شته په دې باب كښې
طالبان دې اوګورې په غټ كتاب كښې

# فائده دَ علم النحو

بچ كول ځان عربې كښې له غلطو نه
ځان خبرول دي له اُصولو دَ لوستو نه
عبارت په دې بنۀ سم پوره تمام دی
دَ لوستلو دَ ليكلو دا كلام شی
په اُصولو چې دَ نحوې برابر وی
اختتام وی او كۀ مينځ وی او كۀ سر وی

# فضيلت دَ علم النحو

دَ قرآن دَ پوهې لويه ذريعه ده
كاميابې له دَ انسان چې وسيله ده

حديثونه هم دَ فقهي كتابونه
ورسره دي ښكلي تول عبارتونه
ضرورت زمونږ دَ ټولو هر طرف ته
ښۀ اُصول دي دَ يادولو هر طرف ته
لكه مالګه چي وي څنګه په طعام كښي
ګڼه داسي نَحُوَ هرخوا ته كلام كښي
عالِم نۀ دے چي په نَحُوَ نۀ پوهيږی
عبارت په دي دَ هر كتاب جوړيږی
لكه څنګ چي زده كوے فرض سنت
داسي زده كړه علمُ النحو هر ساعت
دا مفهوم دَ حق فرمان دے دَ عمرؓ
نصيحت دے حق بيان دے دَ عمرؓ

## تدوين دَ علم النحو

معتبر دا واقعه ده په دي باب كښي
ماليدي دَ عبرت ده په كتاب كښي

زمانه وه دَ عمر ابن خطابؓ

واقعه ده معتبر ښه لاجواب

يو قاري دَ قراٰن کولو تلاوت

ښه په شوق سره لګيا وو دا ساعت

ناګهانه شو خطا په يو اٰيت کښي

ناګهانه شو خطا په تلاوت کښي

دا سورت په سورتونو کښي توبه وو

ناخبره له خطا هغه بنده وو

پيښ ئې زير سره بدل کړه دَ قراٰن

مفهوم دې سره بدل شو دَ بيان

واقعه دغه بيان شوله عمرؓ ته

پيښه شوې واقعه هغې بشر ته

غټ عالم دَ هغې وخت ابو الاسودؒ

دَ عجم سره دوی کړې ډير مدد

دَ عمرؓ سره مجلس کښي دلته ناست وو

خپل رهبر سره مجلس کښي دلته ناست وو

عمرؓ دغې واقعې ډېر فکرمند کړه
مخاطب ئې ابوالاسودؒ قدرمند کړۀ
ورته اُوئيل په جار اِبن خطابؓ
لوستل بۀ صحيح دے حق دَحق کتاب
څۀ اُصول وَضع کول دلته پکار دی
عجميان ورته محتاجه په هر دار دی
بچ به دې سره دا قوم شی له فساد نه
چې خبر له حقيقت شی له بُنياد نه
دا آغاز دے ابتدا دَ علم النحو
دا آغاز دے په دُنيا دَ علم النحو
زور چې زير سره بدل نه کړی انسان
څکه دې سره ايمان ته وې نقصان
په خپل ځائې باندې به هريو حرکت وی
له فساد نه به محفوظ پوره اُمت وی
قاعدې دَ دې دَ پاره کړه راجمع
تانه زۀ ساتم د دې عظيم کارطمع

چې انسان ته اسانتیا شی تلاوت کښې
غلطۍ نۀ راځی له دۀ نه یَو سورت کښې
دغه کار دَ ربّ رضا دَ پاره اُوکړه
عظیم کار یومُ‌الجزا دَ پاره اُوکړه
چې انسان وائی قرآن ، وائی به سَم
دَ غلطۍ امکان به نۀ وی په عجم
څۀ اُصول دَ علم النحو را پیدا شو
په درسونو کښې شامل بیا د دُنیا شو
داسې شوې ابتدا دَ علم النحو
ابتدا په دې دُنیا دَ علم النحو
دا یو قول دے دَ تدوین په سلسله کښې
یاد ساته ئې د دُنیا په هر حصه کښې
بل یو قول دَ علم النحو شته کتاب کښې
دَ حضرت علیؓ نه نقل په دې باب کښې
یوه ورځ حضرت علیؓ شو مخاطب
دَ حضور ﷺ دا صحابیؓ شو مخاطب

نژدې ناست ابوالاسودؒ ته ښۀ په جار
په ښۀ شان سره شورو کړۀ دوی ګفتار
عجميان شول ډير ملګرى دَ عرب
دَ غلط لوستلو ښکارى دا سبب
عجميان له عربي نه ناخبر دى
ډير کسان له عربي نه ناخبر دى
ماليکلى په کاغذ ځني اُصول دى
مددګار په عربي کښې دى مقبول دى
دا رقعه زما په لاس کښې قيمتى ده
په اُصولو سره ښکلې عربى ده
جمع کړى دا تمام اُصول علىؓ وو
دا اُصول دَ علم النحو بُنيادى وو
دا اُصول دَ علم النحو تول تمام وو
ناخبره تول له دغې نه عوام وو
بيا اُبوالاسودؒ ورسره نوُر اُصول کړل
پاك اللّٰه په هر مقام تمام مقبول کړل

خلاصه دا شوه مختصر شوه دا خبره
بنهٔ په تول باندې پوره شوه برابره
بعض عمر ابن خطابؓ موجد ګڼلې
بعض ابوالاسودؒ جناب موجد ګڼلې
ځنې وائی چې نصر ابن عاصم دے
ياد چې څنګ په سخاوت سره خاتم دے
وائی ځنې چې موجد عبدالرحمٰن دے
حقيقت نه لرے لرے دا بيان دے
راجح قول دے معتبر نوم دَ علیؓ دے
دا موجد دَ علم النحو حقيقی دے

## اهم کتابونه دَ علم النحو

کتابونه ډير موجود د دغې فن شته
ذخيره ډيره اعلا د نحوې نن شته
الکتاب نومې کتاب شته دَ خليل
دَ سيبويه په شاګردانو کښې اصيل
الاکمال او الجامع شته کتابونه

یاد ساته په نحو کښې دغه نومونه

یو کتاب دے ورته وايو مختصر

په الفرح باندې یاد دے په هر در

یو کتاب دے په نامه دلته ارشاد

دَ نحوې دَ علم دا ځنه بُنیاد

یو کتاب دے مفصّل ، لُبُّ الالباب

داُصولو دا دَ نحوې دے کتاب

الفیه نومې کتاب هم په جهان شته

بل علل النحونوم سره بیان شته

بنهٔ کتاب مقدمه دَ مبرد دے

کتابونو کښې اعلا دے معتمد دے

مهذب ، علل النحو مدرسو کښې

دَ ایضاع درسونه کیږی محلو کښې

په الجمل الکبیر کتاب یادیږی

چې دَ نحوې دَ اُصولو ذکر کیږی

هم شذور الذ هب شته ، مغنی اللبیب

مسئلو کښې دَ نحوې ياد په طبيب

شرح شته دَ الفيې ښه په تفصيل

شارح دلته کښې د دې ابن عقيل

ماة عامل کتاب شته هم دَ اُصولو

مدرسو کښې دا کتاب دے دَ يادولو

دَ مصباح په نوم کتاب اعلا تحرير دے

کتابونو کښې دَ نحوې نحومير دے

شرح ماة عامل شته حسين کتاب

دا دَ نحوې ښکلې بهترين کتاب

مسئلې دَ نحوې شته په کافيه کښې

يادوي ټول طالبان دا مدرسه کښې

دَ سنبتې تحرير له چا نه نۀ دے هير

کتابونه ټول اهم تمام شول تير

هم ايضاح المطالب حسين کتاب شته

کافيې له دَ هر تحرير جواب شته

شرح يو مُلا جامي ده دُنيا کښې

نۀ هیریږی دا دَ نحوې په دُنیا کښې
یو النحوالواضح شته کتاب دَ نحوې
په کښې شته هر باب د نحوې
دَ کتاب النحو نوم کله هیریږی
په اسباق النحو بل کتاب یادیږی
شته دَ علم النحو نوم سره کتاب
انداز ښکلې لری دلته دَ هر باب
شته دَنحوې نور اعلا غټ کتابونه
تمام نۀ دی ذکر شوې دا نومونه

..............

باب دوم

## دَ لفظ تعريف

لفظ وينا ده دَ انسان په ژبه دلته
دَ هر چا ښکاره بيان په ژبه دلته
كله كله دَ معني نه دا خالي وي
كۀ فارسي وي دا پښتو كۀ عربي وي
زيات به دلته معنىٰ داروي په دُنيا كښي
هميشه دَ بل نه واوره دا وينا كښي
په جهان د دغي لويه ذخيره ده
كله كله دا كلام ، كله كلمه ده

## دَ لفظ قسمونه

په دوه قسمه كښي تقسيم تمام الفاظ دي
څۀ مُهمل ، څۀ مستعمل دا عام الفاظ دي
تكي هغه چي خالي وي له مطلب نه
داسي تكي به ډير اوري مخاطب نه

چې معنیٰ ورسره نۀ وي بې معنیٰ وي
دا مهمل تکې به دلته کښې ادا وي
چې معنې نه لرے په جهان وي
مهمل تکې خامخا به دا بیان وي
چې معنې سره تړلې هر ساعت وي
بیا دَتکی یو مفهوم وي وضاحت وي
مستعمل به خامخا وي هغه لفظ
چې صاحب دَ څۀ معنیٰ وي هغه لفظ
هم موضوع دَ مستعمل نامه ده بله
بیا اقسام دَ مستعمل دي دوه په خپله

## دَ لفظ مستعمل قسمونه

مستعمل لري قسمونه دوه په جار
یاد دې هر طالب کړي دا تمام گفتار
یو مفرد دے بل دے یاد په مرکب
خالی دې نه نۀ دے یو مقام مکتب
مفرد نوم دے دَ یَو والی په دُنیا کښې

مرکب دَ ډیرو جمع ده وینا کښې
یوَ یوَ څیز ته مفرد وائی هر بشر
مرکب ډیرو ته وائی په هر در

## دَ مفرد (کلمې) بیان

مفرد یاد په کلمه دے عربي کښې
پکاریږی مفرد تکی زندګي کښې
هر مفرد کلمه دري لری قسمونه
یاد ساته په هر طرف د دي نومونه
اسم فعل بیا دَ حرف نامه کړه یاده
ځان خبر له حقیقت کړه له بُنیاده

## دَ اسم تعریف

مفرد اسم په معنیٰ بنۀ مکمل وی
زمانو نه به خالی په هر محل وی
دا تعریف درنه دَ اسم نه شی هیر
مختصر بره بیان کښي چي شو تیر

# دَ اسم قسمونه

دَ اسمونه په جهان دي دري قسمونه
درنه هير نهٔ شي د دوی دلته نومونه
يو جامد،بل دے مشتق بل دے مصدر
ځان له دي نه دي کړی هر بشر خبر

# دَ جامد تعريف

جامد هغه چې په يو صورت مدام وی
يو صورت ئي، يو وجود په هر مقام وی
نه دَ چا نه پيدا کيږی نه جوړيږی
کله تاسره چې دلته ملاويږی
يو حالت سره مدام اوسی دُنيا کښې
نه بدليږی يو طرف ته په وينا کښې
دا صورت دَ هر جامد پوره تمام دے
ښه خبر له دې نه دلته کښې عوام دے

★ ★ ★ ★ ★ ★

# دَ مصدر تعريف

نــهٔ جــوړيــږي لــه بـل اسـم نــه مـصدر
پـکــارده چــې هــرطــالــب وي بښــهٔ خبــر
ستــا تيــر شــوې بــه ډيــر تــکــې وي نـظــر نـه
ډيــر اسـمـونـه دي جـوړ شـوي لـه مـصدر نـه
پيــدا کيــږي ډيــر لـــه دهٔ تــکــې جــوړيــږي
نــهٔ لـــه چـــانــه دا پيــدا وي مــلاويـــږي
دا تــعــريف دا حــقيــقـت دَ هــر مـصدر دے
هــرطــرف تـــه پـــه جـهـــان د دهٔ اثــر دے

# دَ مشتق تعريف

هــريــو اســم چــې پيــدا وي لـــه مـصـدر نـــه
خـــالــي کـلـــه دَ مـصـدروي لـــه اثـر نــه
دا پــخـپـلـــه پيــدا شـوې دي لـــه بـل نـــه
پيــدا کيــږي بــه لــه بـلــه لــه ازل نـــه
دا مشتــق دے پـــه مشتــق ســره يــاديــږي

هغه اسم له مصدر نه چې جوړيږي

## دَ فعل تعريف

هر يو فعل کښې پرته يو زمانه وی
په معنىٰ باندې به لفظ پوره پوره وی
دا تعريف دَ فعل ياد په هر مقام کړه
جوړ دې نه ډيردَ قدر هر کلام کړه

## دَ فعل قسمونه

ټول په شمير دَ فعل دی څلور قسمونه
ياد ساته ئې صفتونه، هم نومونه
ماضی نوم دَاول قسم په آغاز کښې
اول قسم دَ فعلونو نه ماضی دے
مضارع په دويم نمبر قسم راضی دے
امر، نهی ياد ساته دَ ژوند افعال
دا څلور قسمونه ياد ساته هر حال
ماضی نوم دَ تير ساعت دَ تير وختونو

مــاضــی نــوم دَ تيــر ســاعــت دے دَ يــادونــو
بيــان حــال او مستــقبـل چې دَ جهــان کـړی
مـضــارع بـه ځــان لـه نـوم دَ هـر مکـان کـړی
حــکــم اَمــر کښــې مدام پــه هــر قــد م وی
امــر شــوې چــې هــرخــواتــه پــه عــالَـم وی
نهــی مــنــع دَ يــو کــار پــه لــر او بــر ده
مــنــع دلتــه لــه کــار نــه پــه هــردر ده
دا قسـمـونــه دَ افـعــالــو پــه هــر لُـور دی
بيــان شــوې حــالتــونــه کور پــه کور دی

## دَ حرف تعريف

چــې محتــاج دَ نـورو تکو پـه دُنيـا وی
حرف بـه دلتـه هغـه تکي خامخا وی
نـهٔ پـه دې کښـې زمـانـه وی يو طرف تـه
نـهٔ کـامـلـه پـه معنیٰ وی يو طرف تـه
کـلـمـه پيــښ چــې دا حالات پـه هـر طـرف وی
دا بــه حــرف دَ کــائـنـات پـه هـر طرف وی

مثالونه د دې ډير دي رنګ په رنګ دي
دَ اسمونو دَ فعلونو ځنګ په ځنګ دي

## دَ حرف قسمونه

ټول په شمير دَ حرف راغلي دوه قسمونه
ياد ساته په هر محل دغه نومونه
غير عامل يا به عامل حرف دَ جهان وي
په نظر دغه قسمونه دَ انسان وي

## دَ مرکب تعريف

دوه يا دوه ټکونه زيات چې يو بيان شي
مرکب سره موسوم په ټول جهان شي
دوه يا زيات ټکي چې جمع شي کلام شي
مفرد ختم شي بدل نوم ئې تمام شي
مرکب هريو کلام هريو جمله ده
مخامخ چې په نظر دې هر فقره ده
درې نومونه دَ يو ځيز په دې عالم دي

دريې نومونه دَيو ځيز په هر قدم دي
دوه کلمونه کم کيدي نۀ شي کلام
هر جمله جوړيږي دغسي مدام
يا ښکاره به وي يا پټېي له نظر نه
دا کلمې په دي جهان له دي بشر نه
حقيقت کښي معتبر دوه کلمات دي
ډك له دي نه هر طرف ته عبارات دي

## دَ مركب اقسام

په دوه قسمه کښي بند شوي مركب دے
پيژندلي هر بشر دا په طلب دے
يو ته هر بشر مفيد وائي دُنيا کښي
مثالونه لري ډير زمونږ په خوا کښي
دا پوره پوره فائده رسوُی بل ته
دا پوره پوره فائده رَسوُی خپل ته
غير مفيد دَ مركب يو قسم بل دے
ناتمامه په صورت په شكل خپل دے

تل محتاج دَ نورو خلقو دَ بيان دے
دا سي هريو غير مفيد دَ هر مکان دے

# مرکب مفيد

ورومي قسم دَ مفيد په نامه ياد دے
څه قسمونه لري دا ددۀ اولاد دے
فائده مند دغه مُفيد په لراو بر دے
بنۀ کامله په بيان پوره خبر دے
نۀ دے نۀ دے دي محتاجه دَ بيان
داسي دلته هر مفيد وي بنۀ عيان
چي سامع لره فائده ورکړي تمامه
ځان خبر دَ هر مفيد کړه له کلامه
دا صفت دَ هر مفيد به خامخا وي
مرکب چي ادا کړي انسان دا وي
مرکب دا اسنادي دَ لراو بر دے
مرکب دغه تمام پوره خبر دے

پــه تــمـــام مــرکــب يــاد وی کـلــه کـلــه
اســنـــادي نـــامـــه ئـــي دلتـــه بـلــه خـپـلــه

## مرکب غير مفيد

چــې ســـامــع پــوره خبــر نـــهٔ شــی تــمــام
دغـــه غيــر مــفـيــد ګــنــه هــريــو کــلام
چــې ســامــع لــره مــحتــاج دَ وضاحت کــړی
دا تــعــريف دَ غيــر مــفيد پوره اُمــت کــړی
وضــا حــت لــره مــحتــاج چــې دَ تفصيل وی
غيــر مــفيــد دے دا صــفت چــې دا دليــل وی
پـــه نــاقــص مــرکــب يــاد وی کـلــه کـلــه
نـــامـــه غيــر اســنـــادي لــره دا بــلـــه

## دَ مرکب غير مفيد قسمونه

چــې فـــائــده ســـامــع تــه ورنـــهٔ کــړی کــلام
غيــر مــفــيــد نــامــه بــه ورکــړي خاص و عـام
بــنـــائـــی ، اضـــافـــی دا بـــه تــوصيفـــی وی

منع صرف به وي يا دا مدام صوتی وي
دا پنځه قسمونه ټول مرکبات دي
ناقص دلته دا تمام په کائنات دي
دا محتاج دَ وضاحت په هر محل دي
ناتمامه په وجود سره په خپل دي
دا پنځه قسمه ادا مرکبات دي
دا ناقصه ټول تمام په کائنات دي

## ورومبي قسم : مرکب اضافي

چي ړومبي حصي ته شوي اضافت وي
بنهٔ ښکاره په کښي چي دغه علامت وي
دَ مضاف ، مضاف اليه جوړه جمله وي
دا په حرف دَ اضافت سره پوره وي
څنګه چي دا کلام راځی په عربي کښي
په اُردو کښي دا راځی هم په فارسی کښي

★★★★

# دويم قسم: مرکب بنائي

بل قسم په بنائي مرکب ياد دے
مثالې دي له عربي کښي دَ اعداد دے
دوه اسمونه دلته يو شي جمع کيږي
دويم اسم سره پټ حرف وي شامليږي
دَ پټ حرف معنىٰ په دويم اسم کښي تل وي
هر کلمه چي دواړه دغه تکي مَل وي

# دريم قسم: مرکب منع صرف

مرکب دي منع صرف په دريم نمبر
هر طالب دي شي پوره پوره خبر
دوه اسمونه دلته يَو په هر محل وي
ډيره ګرانه ده چي دا له يو بل بيل وي
مينځ کښي پټ نهٔ لري حرف په يو مقام
داسي دلته منع صرف کښي وي مدام

# څلورم قسم : مرکب توصيفي

څلورم نمبر هر خوا دَ توصيفي دے
ناتمام په هر محل دا ابدي دے
دَ موصوف صفت نه جوړ په محل دے
دا ئي شکل دا صورت دا ئي اصل دے

# پنځم قسم : مرکب صوتي

په پنځم نمبر صوتي بل مرکب دے
دا موجود په ټول عجم په ټول عرب دے
دوه اسمونه چي يو ځائي پوره تمام شي
په کښي دويم مقام دَ صوت اسم مدام شي
سيبويه مثال کښي دا په دي عالم شته
دا موجود مرکباتو کښي اهم شته
دوه اسمونه دَ ناقص جمع کلام وي
په کښي صوت آواز په دويم نمبر تمام وي

# دَ مرکب مفيد قسمونه

خبريه جمله اول قسم ددې دے
بل قسم انشائيه دلته په کښې دے
دوه قسمونه لرې دلته هرطرف ته
دا نومونه لرې دلته هر طرف ته

## دَ جمله خبريه تعريف

چې قائل ئې دروغژن وی دَ بيان
يا قائل ئې وی صادقه د جهان
دا جمله به خبريه دَ هر بشر وی
ورسره چې دا صفت په لر او بر وی
يو حصه ئې مبتدا بله خبر وی
ستا په دې جمله کۀ ښۀ پوره نظر وی
دوه قسمونه په جهان ددې جملې دی
دوه قسمونه ښۀ عيان ددې جملې دی

★★★★

## جمله اسميه

اسميه ، فعليه دا دواړه قسمونه
خبريه کښي ياد ساته دغه نومونه
اسميه کښي اسم وي په ابتدا کښي
پيژندي شي په اسانه دا وينا کښي
اول جزء مسنداليه دَ اسميي دے
بيا مسند په دي جمله کښي وريسي دے
مبتدا اول حصه دَ اسميي ده
بيا خبر حصه شامله وريسي ده

## جمله فعليه

فعليه کښي اول فعل خامخا وي
وريسي نوره حصه بيا د دُنيا وي
مسند دلته کښي په هر محل اول وي
بيا دَ مُسند اليه بيان به تل وي
دَ مسند ، مسند اليه يو مجموعه ده

دا چې دلته کښې جمله دا فعليه ده

## مسند او مسند اليه

چې نسبت ورته مدام دلته کښې کيږی
په مسند اليه هغه به يادېږی
چې ئې بل ته نسبت شوې په جهان وی
خامخا به دا مسند دلته بيان وی
هم مسند ، مسند اليه راځی اسمونه
مسند صرف په جهان راځی فعلونه
چې مسند ، مسند اليه نه وی دُنيا کښې
دا به حرف تل خامخا وی په وينا کښې

## جمله انشائيه

چې صادق ، کاذب قائل دَ جملې نۀ وی
ستا په خيال دا مرکب به دلته څۀ وی ؟
نۀ صادقه نۀ کاذب چې ئې قائل وی
دا بيان په خبريه کښې تل حائل وی

دا تعریف دا علامت انشائیه له
هر طرف ته هر ساعت انشائیه له
جمله دا انشائیه دَ علم النحو
دا وینا انشائیه دَ علم النحو

## دَ جمله انشائیه قسمونه

دَ جمله انشائیه دی لس قسمونه
یاد ساتل مونږ له پکار دی دا نومونه
اَمر، نهی وریسي بیا استفهام دے
تمنی، ترجی دَ عقود کلام دے
ندا، عرض او قَسَم بیا تعجب دے
یا قائل دلته ئي جزء یا مخاطب دے

## قسم اول : امر

اول قسم په کښي اَمر دَ جهان دے
اَمر حکم هرطرف ته ښه عیان دے
دَ فاعل نه دَ څۀ کار دلته طلب دے

دا قـــائـل چـي چـاتــه دلتــه مـخـاطـب دے

## قسم دويم : نهي

نهـی کـار کښـي مـنـع دلتـه پـه جهـان ده
مـعـنیٰ دلتـه کښي ښـکـاره پـه هر مکـان ده
دَ څــه کـــار دَ پـــريښــودو دلتــــه طـلـب وی
دا قـــائـل چـي دلتـــه چـــاتـــه مـخـاطـب وی
دَ څــۀ کــار نـــه مــنــع کـوُل لـری مـفـهـوم
دا بــه چــاتـــه دلتـــه کښي نـۀ وی مـعـلـوم

## قسم دريم: استفهام

قســم ســوم انشـــائيـه کښـي استـفـهـام دے
سـوال تـپـوس پـه کښـي پـه هرطرف مدام دے
نـــا خبــره ځــان خبـرول پــه تـپـوس غـواړی
بـل نــه ځـان پـوره پـوهوول پـه تـپوس غواړی
پــه مـخـصـوص تـکــی ســره دلتـه تـپـوس وی
عـربـي کښـي دي لـه بيل تکی مخصوص وی

## څلورم قسم: تمنّی

تمنی کښې تمنیٰ وی آرزو وی
خواهش دا چې دَ هرچا وی آرزو وی
څلورم قسم جملــه انشائیه کښې
خواهشات دی ټول تمام دغې نامه کښې

## پنځم قسم: ترجّي

دَ اُمید معنیٰ پرته ده ترجی کښې
دا مخصوصی ټکی لری په عربی کښې
دَ امید په پُل قائم دا عمارت دے
دَ اُمید نه دا قسم ټول عبارت دے
بس اُمید صرف اُمید صرف اُمید دے
زړو تقسیم دے داسې نه ده چې جدید دے

## شپږم قسم: عقود

دَ عقود جملې به وینې کائنات کښې
دا رائجې دَ هر بشر په معاملات کښې

عقود عقد نه وتلي په جهان دے
روزګار کړي ورسره هريو انسان دے
اخستلو په خرڅولو کښي مدام
مستعمل ټکی هرخواته دَ کلام
په عقود سره يادېږی هرطرف ته
ټکی دا استعماليږی هرطرف ته

## وو قسم : ندا

شپږم قسم دَ ندا په نوم يادېږی
منادی ته په دي دلته آواز کيږی
دَ ندا په ټکی سره بل بلل دی
کۀ پردی دی دَ جهان او کۀ څوك خپل دی
دَ بلني ټکی دغه په جهان دی
عربي ژبي دَ پاره بيل بيان دی
هر بلونکي مخاطب متوجې کړی
آواز منادی ته تل په دي کړی
دَ ندا سره اجزاء تمام څلوروی

هلـه دلتـه كښـې پوره صـورت بـه جوړ وي
يـو مـقـصـود دے بِـالنِّدا بل منـادیٰ دے
مـنـادِي دے ورسـره حـرف دَ نـدا دے
دا ټـلـور اجـزاء تـمـام بـه مـلاويـږي
دَ نـدا جـمـلـه بـه هـلـه پـوره كيـږي

## اتهم قسم : عرض

عـاجـزي سـره درخـواسـت چـې دَ بشـر وي
پـه عـرض سـره بـه يـاد پـه لـر او بـر وي
عـرض نـوم دَ هـر درخـواسـت او الـتـجـا وي
چـې نـرمـي سـره بيـان پـه كښـې ادا وي
مـخـاطـب تـه وي درخواسـت پـه كښـې تمام
مـلاويـږي كـلـه كـلـه دا كـلام

## نهم قسم : قَسَم

پـه حـرفـونـو قسـمـيـه سـره قسم دے
پـه اقسـامـو كښـې ددې نـمبـر نهـم دے

قسمیه تېکو سره چې مستحکم شی
جمله هله په جملو کښې به قَسَم شی
دَ یقین دَ پاره هریو تېکې سم دے
ناخبره له قَسَم کله عَالَم دے
مستحکم ورسره وی هریو کلام
بنۀ قوی په قسم وی پوره تمام
په قسمونو کښې دا قِسم دَ قَسَم دے
بنۀ آګاه له دې نه هر بنی اٰدم دے
په جمله انشائیه کښې شمیر تمام دے
داسې دلته دا یاد شوې هر کلام دے
یو مقسِم ، مقسَم بِهٖ په دې عالَم دے
حرف قسم سره جواب بیا دَ قَسم دے
دا څلور اجزا تمام دلته مدام وی
چې جمله قَسَمیه کله کلام وی

## لسم قسم : تعجب

چې قائل په تعجب کښې مبتلا کړي

بيا جمله د تعجب به دا ادا کړي
ډير په ګرانه سره اُوشي چې يو کار
تعجب دے بيا انسان لره پکار
نامکنه چې ممکن کله بشر کړي
تعجب په دي سره به لر او بر کړي
دا لسم قسم جمله انشائيه کښي
درنه هيرنه شي تکرار کښي تذکره کښي

## دَ اسم پيژندګلو

پيژندوله علامات دَ هريو اسم
علامات وي مقامات دَ هريو اسم
علامات دَ اسم دوه په ابتدا دي
دوه اخر کښي دَ کلمي په انتها دي
حرف جر او الف لام په بتدا وي
تا حرکت والا، تنوين په انتها وي
نور په خپله هغه لفظ کۀ مصغروي

يا مضاف ، مضاف اليه كه په يو دروي
يا موصوف وي تثنيه جمع كۀ راشي
يا حركت سره اٰخر كښې كۀ دا تا شي
دا دَ اسم بعضي دلته علامات دي
دَ اسماء دَ پيژندلو مقامات دي
هريو اسم پيژندي په علامات شي
پكارده چي ټول خبرپه كائنات شي

## دَ اسم علامتونه (نخې)

په شوروكښي هرطرف ته الف لام
دا به اسم خامخا وي ټول تمام
الف لام دَ اسم نخه ابتدا كښي
مثالونه لري ډير په دې دُنيا كښي
چي شوروي ابتدا له حرفِ جر نه
ځان خبر كړه ددې اسم معتبر نه
په اٰخر كښي چي دَ ټكي وي تنوين

تمامی بدن سره اسم حسین
مسند الیه دَ اسم دلیل دلته
علامت دے بیانوومه تفصیل دلته
مُصغَر دَ اسم هرخوا علامت دے
مکبر کیدل دلیل ددهٔ صفت دے
خامخا به اسم وی چي معرفه ده
علاماتو کښي دَ اسم نکره ده
چي موصوف وی دا دلیل بل علامت دے
منسوب کول دلیل دَ اسم هرساعت دے
منصرف ، غیر منصرف تهکی تمام
علاماتو کښي دَ اسم دی مدام
ـۃ په ها سره په وقف کښي بدله
علاماتو کښي دَ اسم شمیر کړه خپله
مؤنث یا مذکر تهکی تمام
اسم وی په هر طرف دلته مدام
علاماتو کښي شمیر شوي دے مقبول دے

هغه تېکي کۀ فاعل دے يا مفعول دے

د ذوالحال جوړيدل ياد ساته مدام

په اسماء کښې شمير کړه دا تېکي تمام

علاماتو کښې شامل هم مستثنیٰ دے

شمير هر خواته په اسماء کښې منادیٰ دے

مستثنیٰ منه هم شمير ده علامات کښې

دَ اسم دغه دليل دے کائنات کښې

ټول په جمع دَ هرخه تمام نومونه

دا به دلته خامخا وي ټول اسمونه

تثنيه، جمع کيدل نخه دَ اسم

دا دي نخې علامات برخه دَ اسم

## دَ فعل علامتونه (نخې)

کله راشي چې شورو کښې سين او قد

فعل پيژنو دَ نخو په مدد

سوف تل دَ فعل وي په ابتدا کښې

په دې مونږه فعل پيژنو دُنيا کښې
حرفِ جزم پسې هر تېکې تمام
علامت دَ فعل دے په هر مقام
تا ساکنه هم دَ فعل علامت دے
دَ ساکن نه لرے لرے دا حالت دے
امر، نهي تېکې ټول دَ کائنات
دا دَ فعل په دُنيا دي علامات
که مرفوع وي، متصل راشي ضمير
علاماتو کښې دَ فعل دے تحرير
دَ تاکيد نون هم دَ فعل علامت دے
خفيفه، ثقيله ياد په خپل صفت دے
چې جوړيږي له يو تېکی نه گردان
علاماتو کښې دَ فعل دے بيان

# دَ حرف علامت (نخه)

علاماتو نه خالي چې وي دَ اسم

نـــه پـــه کښـــې وی دَ افـعـــالـو نـــه يـو قسـم
مـخـتـصـر دغــه چـې حــرف تمام دے دلتــه
جــزء پـــه هــر طـرف ښـــهٔ دَ کـلام دے دلتـــه
دې مـحـتــاجـه پـه تعبير کښې دے اسـمـاء تـه
يـــا مــحـتـــاج دے دَ افـعــالـو دې دُنيـــا تـــه

## دويم دَ تعبير انداز

چـــې دَ اســـم ، فـــعــل نـــهٔ وی عــلامـــات
دلتـــه کښـــې بـــه وی دَ حــرف پوره صـفـات
دې مــحـتـــاجــــه وی اســمـــاء تـــه پـــه هــر در
هــم افـــعـــال تـــه فـعـل وی پـــه لـــراوبـــر
تــمـــامـــی حــروف دُنيـــا کښـې تـول دَ جـر دی
مثــــالــــونـــــه لــره ډيــر پـــه لـــراو بـــر دی

## دَ معرب بيان

هـــريـــو اســـم بيـــان کـړې چـې عـــرب دے
دا مبـنـــی دے يـــا صـــفـت سره معـرب دے

مبنی نه بدلوي خپل وجود صورت
دَ معرب اخر بدليږي هر ساعت
دَ معرب اخر له يوشان نۀ وي رنګ
دَ بدلون سره وي هرخوا ته په څنګ
مختلف لري اعراب په هر محل
عاملانو سره دا ګرځي بدل
يو حالت په يو مقام نۀ لري دلته
يو صورت لره دوام نه لري دلته
چې اخر دَ کلمې بدليږي دلته
خامخا به په معرب ياديږي دلته

## دَ مبني بيان

دَ مبنی اخر بدل نه شو دُنيا کښې
حرکات لري يو شان دا په وينا کښې
مبنی نۀ بدليږي هيڅ کله دُنيا کښې
تل اخر لري يو شان په ابتداء کښې
نۀ بدليږي دَ مبنی وُجود تمام

يو صورت لري چې جزء وي دَ کلام
په صورت سره يوشان په ټول عالم وي
داسې دلته کښې مبني په هر قدم وي

## مبني څيزونه

ټول دي درې مبني الاصل په جهان
کتابونو نقل کړې دا بيان
ماضي دارنګې معروف حاضر امر
مبني اصل کښې شمير شوي په هر در
مبني ټول دي دَ جهان دلته حرفونه
بل تاکيد دَ مضارع چې کړي نونونه
خفيفه او ثقيله سره دي ياد
مضارع کښې دَ مبني دے دا بُنياد
مؤنث جمع دَ پاره نون کړه شمار
مضارع سره چې راشي په يو لار
دا يادېږي په مبني سره دُنيا کښې
اختصار سره راوستي ما وينا کښې

# اسم متمکن او اسمِ غیر متمکن

اسم غیر متمکن مبنی دے وروره !
معرب دي متمکن دَ زړۀ ټکوره
چي مبني اصل سره کلمه یو شان شي
دا به غیر متمکن دَ هر مکان شي
چي یو شان دَ مبني اصل سره نۀ وي
د دوی اسم متمکن سره به تلۀ وي
مختصر بره تمام پوره بیان دے
دَ هوښیار دَ پاره ګران نۀ دے اسان دے
دَ اسمِ متمکن اتهه (8) قسمونه
اسم غیر متمکن چي وي څرګند
په اتو قسمونو کښي هغه وي بند
ضمیرونه (1) په قسمونو کښي اول دے
کتابونو کښي د دوی جُدا محل دے
اشاره (2) چي په کښي وي هغه اسمونه
بند وي دلته اخستل دَ بل نومونه

دَ نــزدې ، لــرې پــه کښــې شتــه مثــالــونــه
يــاد دَ غيــر متــکــمــن کړه ټول قسـمـونــه
ټول چې څو مره دی اسمونه په افعال (3) کښې
تــمــام غيــر متـمـکــن بـه وی هرحال کښـې
څــۀ اسـمــاء کښې دَ مــاضـی معنیٰ بيـان وی
کــلــــه کــلــه دَ امــر حـــاضــر مــکـــان وی
بـل اسـمـاء دی مـوصـولـه (4) پـه کښـې تمام
هــر طـــالـــب دې دلتـــه يـــاد کـړی دا کلام
څـــۀ اسـمـــاء دَ آوازونـو (5) پـــه دُنيــا شتــه
څـۀ ظـرفـونو لـه (6) راغـلـی هـم اسماء شتـه
بـنـائـی (7) پــه کښــې راغـلـې مـرکـب دے
دَ مبــنـــی ســره مــلـــګـرې دَ مــکـتــب دے
کـنـايـه (8) دَ پـاره څـومـره چې اسـمـاء دی
پـه مبـنـی کښـې ټول شـامل پـه دې دُنيـا دی

★★★★★★★

# معرفه او نکره

پــه دُنيــا دلتــه چـې څـومره دي اسـمونـه
دوه د دوي تـمــامـو دلتــه دي قسـمونــه
يـو د دوي نــه پــه دُنيــا کښــې مــعرفــه ده
نــکــره دَ بــل قسـم ښــکــاره نــامــه ده
نــکــره کښــې عــام اسـمونــه دَ جهــان وي
نــکــره کښــې عــام څيــزونــه دَ جهــان وي
مــعــرفــه پــه خــاص څيزونو دلالـت کــړي
نــکــره مـدام ددې مــخــالــفــت کــړي

## دَ معرفې ووه (7) قسمونه

مـعــرفـه پـه ووه ( 7) قســمـونـو کـښــې ده بنده
ښــه پـوره ده پــه مـعـنـې سـره څـرګـنده
لـکـه څنګ چې ووه (7) طـوافـه دَ کعبې دي
ووه (7) قســمــونــه دغــه شان دَ مـعـرفـې دي
ضـمـيـرونه (1) چې دي څـومره پـه دُنيا کښې

مـعــرفــه ورتــه وئيلـي شـى ويـنـا كښي
تـول چـي څـومره دي اسـمـاء دَ اشـاراتـو ( 2)
مـعــرفـــه دي ، مـوافـق تـول دَ حـالاتـو
دَ اعـلام (3) مـعـنىٰ مدام كيـږي نـومونـه
مـعــرفــه دَ پـاره جـوړ دي دا قسـمـونـــه
تـول اسـمــاءِ مـوصـولــه( 4) ددي جهـان دي
مـعـرفـه كښي شـامـل هـرخواتـه عيان دي
هغـه لـفـظ چـي منادىٰ ( 5)شـي پـه ندا نن
مـعـرفـه هـغـه كـښـې تـولـه دُنيـا نـن
مـعــرفـــه جـوړيــږي هـم پـــه الف لام( 6)
يـــاد ســـاتــــه پـوره پـوره دغـــه كـلام
چي مضاف شي دغي شيږوته (7)دُنيا كښي
مـعـرفـه كـښـى تـمـام دا پـه اسمـاء كښي
چـي پـه خـاص څيز كـلـه اسم دلالـت كـړي
بيـل پـه دي سره بـه خپل وجود صورت كړي
مـعـرفـه ده مـعـرفـه چـي دغـه حـال وي

خــاص ده دغــه کـلـمـه چې دغـه حــال وي
مـعـرفه ده چې دا ووهٔ (7) قـسـمـه په کښې وي
عــام نــه بيـل شـکـل وصـورت دَ معـرفې وي

## مذکر او مؤنث

اعتبـار چې دَ جـنـس اُوشـی پـه اسماء کښې
دوه قـسـمـونــه راجـدا شی پـه دُنيـا کښې
مــذکـــر دے لـــه قـســمـونـو نـــه اول
عـــلامـــات دي پــه دُنيـا کښـې ددهٔ خپـل
دويـم نـمبـر دَ مـؤنـث پـه لـر او بـر دے
هـوښيــار دلتــه ښـهٔ پـه دي پوره خبـر دے
مـذکـر دے هـغــه تـکـې هـرسـاعـت
دَ تــانيـث چـې پــه کښې نـه وي عـلامت
چې پـه لـفـظ کښې دَ تـانيت څهٔ علامات وي
خــامـخــا بـــه مـؤنــث پـــه کـائـنـات وي
مـؤنـث بـــه هـغــه لـفظ پـه کـائـنـات وي

# دَ تانيث علامات

عـلامــاتــه دَ تــانيــث دی تهـول څـلـور
نـــه ليـدي شـی عـلاوه لــه دي نـــه نُـور
مـقـصـوره الف اول ئــي عــلامــت دے
دَ ثــانيــث تـهـکــی اول دغــه صـفـت دے
مــمــدده الف ده نــخـــه دَ تــانيــث
ښـــه پــوره پــوره ده بــرخــه دَ تــانيــث
پټـــه تـا پــه هـريـو لـفظ کښـي ده مدام
تــا ښـکــاره دَ ګـول پــه شـکـل ده تـمـام
دغــــه تهـول دَ مــؤنــث دی عــلامــات
يــاد ســاتــه دغــه سبـق پــه کــائـنـات

# د مؤنث اقسام

مـؤنــث لــری دُنيــا کښــي دوه قسـمـونــه
بيـل بيـل دلتـه کښـي لـری ښـکـاره نومونـه
اول قسـم لــه اقســام نــه حـقيـقـی دے

وريسې وروستو مقام بيا دَ لفظی دے
دَ لفظی نه بيا قسمونه دوه دي جوړ
دَ لفظی نه دا قسمونه دوه دي جوړ
قياسی سره موسوم اول قسم دے
مؤنث دغه معلوم اول قسم دے
سماعی وريسې ياد دے دغه بل دے
دويم قسم دَ مؤنث دَ كور دا خپل دے

## واحد، تثنيه ، جمع

اعتبار چې كلمه اُوشی دَ تعداد
دري قسمونه ورسره راته شی ياد
يو واحد دے ، دلالت په يو مدام كړی
يو نه يو به وی مُراد چې څوك كلام كړی
يو نه زيات چې وی او جمع نه وی كلمه
تثنيه وی چې صفت لری دا هله
تثنيه وی په صفت سره دا خپله
تثنيه دي دَ انسان دواړه لاسونه

تثـــنيــــــه دي دَ بشــــر دوه قـــدمـــونــــــه

تثـــنيــــــه دي دواړه ستـــرګـــي دَ انســـــان

تثـــنيــــــه دي دوه غـــوږه پــــــه جهــــان

مثــــالــــونـــــه ټـول بيــــان دَ تثـنيــــه شـو

ډيـــر لـــــه دوو نــــه پ تـعــداد چـې وي څيـزونـه

دا دَ جـمـعــې تـمــامـی دي ټول اسمـونــه

څنګ چې جمع معنوي دلتـه هرخواده

دوه قسـمـونــه دي دَ جـمـعـې يو لـفـظی ده

دويـمـه جـمـعـې پـه کلام کښې معنوي ده

يـو يـا دوه نـه زيـات چې کلـه په تعداد وي

جـمـع نـوم سـره پــه هـر مـحـل بـه يـاد وي

لـفـظـی جـمـع کښې الـفاظو کښې بدلون وي

مـعـنـوي کښې يـو حــالـت دَنـن پـرون وي

## دَ جمع معنوي قسمونه

دوه قســمــونـــــه دي دَ جـــمـــع مـعــنـوي

کـلــــه ذکــــر چـې ئـې دلتــــه څـوك کـوي

معنوي جمع کښي شته جمع قلت
په وزنونو پيژندي شي هرساعت
دَ کثرت په نامه بله جمع ياده
زيات دَلس نه چي شي کله له تعداده

## جمع قلّت

معنوي جمع کښي شته جمع قلت
دغه شپږ لري وزنونه هر ساعت
اَفْعِلَه ،فِعلَه وزنونه ددي کور
د اَفْعُل او دَ اَفْعَال وزنونه نُور
مذکر يا مؤنث جمع سالم
الف لام نه ماسيوا چي وي قائم
مُسْلِمُوْن يا مُسْلِمَات دي مثالونه
ياد ساته په هرطرف دغه وزنونه
چي تعداد دَلسو نه کله وي کم
جمع دا به دَ قِلت وي په عالَم
چي دَلس نه په تعداد نۀ وي سيوا

دا بـــه جـــمـــع دَ قـــلـــت وي خـــامـــخـــا

## جمع كثرت

چـي دَ لســو نـــه پـه كښې وي زيات تـعـداد
دَ كثـــرت جـــمـــع بـــه دلتـــه وي مُـــراد
دا قـســمـونـــه مـعـنـوي جـمـع دَ پـاره
نـــهٔ دي نـــهٔ دي د لـفـظـي جـمـع دَ پـاره

## دَ جمع لفظي قسمونه

دَ لـفـظـي جـمـعـې نـه جوړ دي دوه قسمونـه
هـر طـالـب دې پـوره يـاد كړي دا نـومونـه
پـــه ســالـم پـــه مـكسـر جمع يـاديـږي
لـفـظـي هـرخـوا پـه هردر جمع يـاديـږي

## جمع سالم

دَ واحـد بِـنـا مـحـفـوظ چې ښـه تـمـام وي
دا بــه جـمـع دَ ســالـم پـــه هـر مقـام وي
دا واحـــد بِـــنـــا چـې كـلــه سلامـت وي

جمع دا به دَ سالم په حقيقت وي
دوه قسمونه په کښې دلته کښې جوړيږي
دا سالم جمع چې کله بيانيږي
مذکر او مؤنث سره تقسيم ده
جمع ديره پخواني زړه قديم ده

## جمع مکسر

دَ واحد بِنا چې نۀ لري تمامه
بيله جمع مکسر شوه له کلامه
دَ واحد صورت په کښې نۀ پاتې کيږي
مکسر جمع چې کله بيانيږي
دَ واحد تمام صورت لره بدل کړي
مکسر جمع ښکاره چې صورت خپل کړي
تن بدن به دَ واحد پوره بدليږي
مکسر جمع چې کله هم جوړيږي
دَ واحد بِنا سالم نه وي تمامه
ځان خبر له حقيقت له کلامه

چي بِنا دَ واحد ټوله کړي برباده
هلته جمع مکسر سره شي ياده

# دَ اسم متمکن اعراب

نصب وجر، رفع دَ اسم دي اعراب
تا دَ نحوي کۀ کتلي وي کتاب
نصب وجر، رفع چي ښکاري په نظر
دا اعراب بِالْحَرَکت دے دَ هر در
چي اعراب کله الف وي، واو او يا
دا اعراب دے بِالْحُرُوف ددي دُنيا
اسم وي متمکن چي په دُنيا کښي
شپاړس (16) قسمه جوړوي دي په وينا کښي
يو مفرد کړه منصرف صحيح (1) اول دے
دَ جاري مجرئ صحيح (2) دغه محل دے
مکسر منصرف جمع (3) دَ دُنيا کړه
حرکتونه ښه واضحه ټول ادا کړه

چي دَ نصب راشى هر کله مقام
فتحه وايه بنه په جار سره مدام
چي حالت راشى دَ رفع په عالَم
ضمه وائى خامخا بنى اٰدم
کۀ حالت راشى مقام دلته دَ جر
کسره دلته به ادا کړي هر بشر
کله جمع مؤنث سالم (4) چي راشى
نصب ، جر به دَ کسري سره ادا شى
چي دَ رفع حالت راشى په يو در
ضمه دلته به ادا کړي هر بشر
چي دَ غير منصرف (5) ذکر شى تمام
رفع ، ضمه سره مل ساته مدام
ځائي دَ نصب وجر چي کله په دُنيا وى
فتحه دلته په لوستلو به ادا وى
شپږ اسماء مکبره (6) دَ هريو دار
خپل انداز لري هرخواته بنۀ په جار

يَا ته دلته مضاف نه وي دَ جهان

دَ قائل متکلم چې کړي اعلان

رفع ،واو سره اعراب کښې شی بدله

چې اسماء مکبره حالت وي کله

الف نصب سره وي پوره تمام

جر دَ يا سره راځی په هر مقام

تثنيه په درې قسمونو کښې ده بنده

حقيقی( 7) معنوی (8) ده صوری (9) څرګنده

دغه درې قسمونه يو د دوی اعراب دے

نقل کړې دا بيان ماله کتاب دے

الف ، رفع سره مَل اُوسی مدام

نصب وجر سره دَ يا تصوير تمام

شرط دَ يا دَ پاره مخکښې زور له دې نه

بنۀ پوره پوره خبر بشر له دې نه

دااعراب دَ تثنيې په هر قدم دی

ماليدلی داسې تول په دې عالم دی

جمع درې لري قسمونه په دُنيا کښې
حقيقي (10) معنوي (11) ده صوري (12) وينا کښې
واو نه مخکښې مخکښې پيښ وايه مدام
چې دَ رفعې راشي هر کلمه مقام
نصب وجر کښې يا نه مخکښې مدام زير وي
پکار نۀ دي چې زمونږ نه دغه هېر وي
يو صورت اسم مقصور (13) بنۀ معتبر دے
پټ اعراب هميشه دلته له نظر دے
تقديري ورته اعراب وئيلې کيږي
له هرچانه هميشه دلته پټيږي
مقصور وائي هغې اسم ته دُنيا کښې
چې الف لري مدام په انتها کښې
نۀ ښکاريږي يو طرف ته په جهان
درنه هير نه شي زما دغه بيان
مقصوره تکې چې کله ملاويږي
په کښې هيڅ کله اعراب نۀ ظاهريږي

غیـــر دَ جـمـع مـذکـر سـالـم (14) کـړه بـل
چـي مـضـاف متـکـلـم یـا تـه وی تـل
تـقـدیـری لری اعراب پـه دي حالـت کښـي
نـصـب وجـر رفـع دري واړه حـقیـقت کښـي
منقوص اسم (15) شته شامل په دغي باب کښي
چي دَ یا نـه مخکښي زیر لری کتاب کښي
کسـره ، رفـع تـقـدیـری لـری دُنیـا کښـي
فتـحـه ښکـاری دَ هرلـفظ سره ادا کښـي
دا حـالـت دَ هـر منقـصـوص اسم تمام دے
پـه نـمبـر پـينـځـلسم پـه دي مقـام دے
مذکـر سـالـم چي جمع (16) وی دُنیـا کښي
چـي مـضـاف متـکـلـم یـا وی ادا کښـي
تـقـدیـری واو وی دَ رفـع پـه هـر در کښـي
یـا نـه مخکښي زیر لری په نصب وجر کښي
تـمـام شپـاړلـس دا قـسمـونـه شو بیـان
دَ اعـراب نهـه (9) قسـمـونـه دغـه شـان

# دَ مضارع اعراب

دري اعراب د مضارع په هر مکتب دي
رفع ،جزم دوه ملګري دَ نصب دي
مضارع کښې اعتبار چې دَ اعراب شي
څلور قسمه به دَ هرچا په حساب شي
ضميرونه لري پټ چې له نظره
صحيح قسم دا اول (1) دے معتبره
ضمّه رفع سره وي په هر بيان کښې
فتحه وي به دَ نصب سره جهان کښې
دَ جزم په ځائې راځي په کښې سکون
دغه شان لري تمام دلته ژوندون
هرواوي يا وي چې وي مفرد معتل
ضمّه پټه لري دا په هر محل
دَ نصب مقام کښې فتحه به لوستې شي
په جزم کښې کلمه لام به غرځيدې شي

دغــه دويـم (2) دَ مـضـــارع قسـم تـمـام دے
ورســره ښـكــلـي پــه هـرطـرف كـلام دے
الــفــي مــفــرد مــعـتــل كــړه ســراســر
پــه اعـــراب كښـــي دے راغـلـے بــرابــر
دَ جـزم حـالـت كښـي لام كـلـمـه غُـرځيـږى
دريـم قسـم (3) دمـضـــارع دلتـــه جوړيـږى
هـر صـحـيـح يـاوى معتـل چـي دَ جهـان
اعــرابــى نـون وى لــرونـكـي ښـه عيــان
ورسـره ضـمـيـر بــارز شـى پــه دُنيـا كښـي
دغـــه ووه صيــغـي راتـلـي شى پـه ادا كښـي
كـلـــه دلتـــه كښـي چـي رفع راپيښيـږى
اعـرابى نـون بـه پـه خپل ځـائي پاتي كيـږى
دَ نــصـــب ، جــزم چـي كـلـــه وى حـالـت
اعـــرابـــى نـون غُـرځـوه دغـــه ســاعـت

★★★★★★

# دَ عاملانو قسمونه

دَ مُعرب چې په آخر کښې کوم اعراب وی
علامان د دوی دَ پاره به اسباب وی
هر انسان ته دې وی یاد زما بیان
دَ معرب دی په دُنیا دوه عاملان
دوه قسمونه دَ معرب دَ عاملانو
تبدیلي دی په سبب دَ عاملانو
څۀ لفظی دی ،معنوی څۀ په جهان دی
دمعرب دَ پاره نن چې عاملان دی
مضارع چې وی خالی دَ نواصب نه(1)
جوازم نه(2) وی خالی چې دَ کاتب نه
دغه دوه قسمونه جوړ دَ معنوی دی
دري قسمونه وریسې نُور دَ لفظی دی
په لفظی کښې څۀ اسماء (1)دی څۀ حرفونه(2)
دَ لفظی دے عاملانو کښې فعلونه (3)

# دَ حروفِ عامله بيان

## (په اسم کښې)

چې عمل کوي په اسم کښې حرفونه
پنځه دلته په دُنيا لري قسمونه
ټول پنځه قسمه حرفونه عاملان دي
په اسماء کښې مؤثره په جهان دي
په تعداد سره دي ګوتې دَ يو لاس
درنه هير نۀ شي هيڅ کله دا اساس

## حروفِ جاره

ټول په شمير سره دي اُولس دَ جر ټکي
کۀ شميرل غواړې دلته يو بشر ټکي
با و تا کاف ولام سره عَدَا دے
ټکي رُبَّ حَاشَا عَنْ عَلىٰ حَتّٰى دے
مُنْذُ مُذ سره دے مِنْ اِلٰى مدام
واو او فى پسے خَلاَ جزءِ دَ کلام

# حروف مشبه بالفعل

دا حـــرفــونــــه مُشَبَّـــهْ بِـــالْـفِـعِـلْ ټـول
ضـــروري دي هـــرطـــالـــب لـــره يـــادول
تـل مرفـوع لري خبر، منصـوب اسمونـه
شپـږ دَ فـعـل سـره يـوشـان دا حـرفـونـه
اِنَّ، اَنَّ هـــم كَـــاَنَّ دَ جهـــــان دي
دري ورســـره نُـــور مـــلـــګــري عـــامـــلان دي
يـــولــكِـنْ بــل لَـعَـلَّ لَيْـتَ يـاد كـړه
يـوځ سبق كـړه، يـوځ ورسـره ځپل بُنـياد كـړه

## مَا وَلَا مُشابه بِلَيْسَ

يـــو قســـم دَ مــــا ولا ددي جهـــان دے
ليـــس سـره مشـابـه دا پـه هـر مكـان دے
پـه هـرځـائـي كښې بـه منصوب د دوی خبروی
ستـا عـمـل تـه كـۀ د دوی دلتـه نـظـروی

# لاءِ نفي جنس

يوه لَا ده په لَا ګانو کښې دَ نفي
لَا ده دا په عاملانو کښې دَ نفي
دَ جنس نفي دغه لَا کوي مدام
چې شامله شي حصه شي دَ کلام
منصوب اسم د دې په لا پسې لراو بروي
هميشه مرفوع ددې لَا به خبروي

# حرفونه دَ ندا (حروفِ ندا)

څه حرفونه دَ نِدا ، صدا دَ پاره
دا راغلي دي دُنيا له تا دَ پاره
اِيْ ، اَيَا ، هَيَا په يَا سره مدام وي
مفتوحه همزه سره به دا کلام وي
ټول په جمع دلته دي پنځه حرفونه
ورسره خلق مدام کړي آوازونه
دَ ندا آواز دَ پاره په جهان دي

دا تـمـام حـرفـونـه دلتـه عـامـلان دي
هر مضاف ورسره دلته کښې منصوب شي
حاصل هله په يو شرط به دا مطلوب شي
نـکـره چـې مـعـيـنـه نـه وي کـلـه
دغـه پـاس عـمـل بـه دلتـه کښې وي هـلـه
رنګ پـه رنګ دَ مـنـادیٰ وي صـورتـونـه
عـامـلان چـې دَ نـدا راشـي حـرفـونـه

## حرف استثنیٰ

يـو راغـلـې پـه جـمـلـه کښې استـثـنیٰ ده
چـې پـه اِلّا يـا دَ اِلّا پـه مـعـنیٰ ده
عـامـلانـو کښې هـم دا ټـکـي دے شـمـير
درنـه هـيـڅ کـلـه دُنـيـا کښې نـهٔ شـي هـير

## حرف واو د مَع په معنیٰ

د مَـعَ مـعـنیٰ لـرونـکـي واو مـدام
عـامـلانـو کښې تـمـام لـري کـلام

# حروفِ عامله

## (په فعل کښې)

پــه دوه قسـمــه تېول حـروفِ عــامـلــه دي
دَ فــعــل څــۀ نــاصبــه، څــۀ جـازمــه دي
مـخـتـصـردا څــۀ حـرفـرونــه دَ نـصــب دي
څــۀ حـرفـونــه عـربـي کښـې پــه عـرب دي

## حروفِ ناصبه

څــۀ حـرفـونــه مـضـارع لــه دَ نـصــب دي
عــربــي کښـې دا څلور دَ هـر مـکـتــب دي
اَنْ دَلَــنْ سـره چـي کَــیْ ،اِذَنْ کـړي جـمـع
دَ نــصــب بــه هـمیشــه ســاتي تېول طمع
هــريــو تېــکــي دَ نــصــب دَ پــاره دلتــه
مـضــارع لــه هــر مـکـتـب دَ پــاره دلتــه
اَنْ بــه پــټ پــه شپــږ ځــايونو کښـې مدام وي
اول دُوی کښــې چــي دَ جـحـد کـلــه لام وي

د کَيْ لام نـه پس موجود بـه هر ساعت وي
ښکـاره نـهٔ وي پټ تمـام به په صورت وي
دَ صرف واو نـه پس ، دا وروستو لـه حتّىٰ نـه
اَنْ راځـي ځـان ښـهٔ خبـر کـړهٔ لـه وينـا نـه
دَ اِلـىٰ اَن پـه مـعـنـىٰ تـمـام واوونـه
د اِلَّا اَنْ داسـي دلتـه حـالتـونـه
مـقـدر وريسـي وروستـو اَنْ مـدام وي
کـلـه دلتـه چي موجود داسي مقـام وي
فـاء چي کلـه وي د شپږ ځيزه جواب کښي
وروستـو اَنْ بـه مـقـدروي هر کتـاب کښي
امـر ، نهـي سـره نـفـي استـفهـام کـړه
تـمـنـى عـرض سـره بيـان تـمـام کـړه
دغـه شپـږمـقـامـه يـاد سـاتـه مدام
دا دَ اَنْ د مـقـدر دے هـر مـقـام

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

# حرفونه دَ جزم (حروفِ جازمه)

لَم ، لَمّا دا اَمَر هر طرف ته لام
لَا د نهی ، اِن دَ شرط سره مدام
دا پنځه تېکی تمام دَ جزم تول
ضروی په هر طالب دی دا یادول
دا حرفونه مضارع کښې دَ جازم دی
صورتونه مضارع کښې دَ جازم دی

# د افعالِ عامله بیان

دَ عمل نه خالی نشته دے افعال
عاملان دی په دُنیا کښې دَ کمال
په دوه قسمه به مدام په هر محل وی
دَ عمل چې دا افعال تول په تکل وی
یو په نوم باندې معروف دے بل مجهول
عملونه د دې دواړو دی قُبول
بیا معروف ، متعدی ، لازم کیدې شی

دوه حالتـه د دۀ هرخواتـه ليدې شي
چې فاعل سره پوره شي دا کلام
دَ لازم نامه به ياد ساتې مدام
چې محتاجه وي مفعول ته فعل کله
نوم ددې متعدي به راځي هله
دا فاعل راځي مرفوع پوره تمام
دَ عامل فعل معروف چې وي مقام
زور لري دَ فعل وروستو شپږ اسمونه
ياد ساتل دي ضروري دغه نومونه
يو مطلق سره ياد شوي دے مفعول
زور ددۀ به وي مدام ذات ته قبُول
بل دَ ظرف په معنىٰ ياد په هرطرف دے
دا په زور سره آباد په هرطرف دے
دَ مکان اودَ زمان لري قسمونه
درنه هيرنۀ شي دَ ظرف تمام نومونه
يَو مفعول د مَعَه په نوم يادېږي

زور نـــه هيـخ کـلـه بـه دا نـــهٔ جُدا کيـږي
يـو مـفـعـول لَــه سـره پـه دُنيـا يـاد دے
دَ فــعــل لـــه عـمـل نــه کـلــه آزاد دے
هـــرســاعـــت پــه دهٔ مـدام دلتــه زيـر وي
پـــه اٰخـــر کـــهٔ ستـــا ددهٔ دلتـــه نـظـر وي
بـل تـمـيـز سـره اسـمـونــه تول دَ حـال دي
قبــول کــړي هـم دَ فـعـل دُوي اعـمـال دي
دوي مـنـصـوب وي هـرطـرف تـه پـه جهان
هيـــردي نـــهٔ شـــي دا زمـــا پــوره بيـــان
دغــه شپــږ شـوتـول قسـمـونـه دَ اسـمـونـو
ځـــان پــوره پـوه خبـر کـړه لـــه نـومـونـو

# مفعول مطلق

وروستــو کـلــه چې دَ فـعـل نـه مـصـدر وي
بيـــا دَ فـعـل پـــه مـعـنـــیٰ هـم بـرابـر وي
دا مـفـعـول مـطـلق يـاديـږي هـرطـرف تـه

کلمه کلمه ښکاره کیږي هرطرف ته
دَتاکید معنیٰ په کښې وی کلمه کلمه
نوعیت دَ پاره هم راتلي شي خپله
کلمه کلمه په معنیٰ به دَ عدد وی
هرطرف ته به ددې مفعول دا حد وی

## مفعول فيه

هم مفعول فيه شته زمونږ کلام کښي
علامات لري خپل خپل جُدا مقام کښې
کلمه کلمه دَ مکان حالت د پاره
راځي وخت له دَ زمان حالت دَ پاره
کله کار چې دَ جهان وی په مکان کښې
دا به ظرف وی دَ جهان په دې بیان کښې
وخت چې کله زمانه کښې شوې کاروی
دغه ظرف به دَ زمان پوره په جاروی

★★★★★★★

# مفعول معه

چي دَ واو نه پس مفعول په نظر راشی
د مَعَ معنیٰ د واو چي بيا ادا شی
دا مفعول به مَعَه وی دَ جهان
درنه هیر نه شی زما دغه بیان

# مفعول لَه

چي دَ فعل په جهان جوړ وی سبب
دا مفعول له تمام وی مکتب
چي سبب جوړ شی دَ فعل په جهان
دَ مفعول له دي دغه اوُچت شان

# حال

هغه لفظ چي دَ مفعول حالت بیان کړی
حال به ځان د پاره نوم ددي جهان کړي
چي حالت بیانوی لفظ دَ فاعل

دَ حال نوم دَ حالت نه شے غافل
چې دَ چا بيانوي دلته كښې حال
دَ ذوالحال نامه لرى ښكاره مثال
چې بيان كړى دَ مفعول ، فاعل حالت
خامخا به هغه حال وي په صورت
يا حالت به دَ فاعل صرف بيان كړى
يا واضحه به مفعول ددې جهان كړى
يا د دواړو وضاحت به كوى حال
دا صفت لرى تمام دغه كمال
معرفه ذوالحال كښې پته وي اكثر
نكره جوړيږى حال په لراوبر
چې ذوالحال شى نكره په خپل صورت
مخكښې حال به شى لازم دغه ساعت
جمله كله كله وي په دُنيا حال
په شرطونو كښې به بنده وي د جال
خبريه جملې سره عائد ضمير

دوه شــرطــونــه درنــه دغــه نــهٔ شــی هيــر

## تمييز

ختــمــوی چــې څـــهٔ پيــدا هــرخــوا ابهــام

تــمـيـيـــز دغــــه يـــادوه پـــه هـــر مـقـــام

چــې دَ فــعــل خپــل فـــاعـل سره نسبـت وی

يــا مــفــعــول دَ فــعــل مَـل پـه حـقـيـقـت وی

کــلــه کــلــه لــری مـيــنـځ کښـې دوی ابهـام

دا ختـــميـــــږی پـــــه تـــمـيـيـــز ســـره مـــدام

هـــر تــمـيـــز لـــه دوه قســـمـونـــه د دُنيـــا دی

ښــهٔ ښــکـــاره لـکــه دَ نمـر پــه شــان رښــا دی

کــلـــه کـلــه پــه مـفــرد کښـې راپيـدا شـی

پــه تــمـيـيـــز ســـره بـــه لـــرې دلـتـــه دا شـــی

دَ مـــقــدار نـــــه ، يـــا بـــه نـــهٔ وی څـــهٔ مقـدار

دَ مـــفـــــرد قســـمـونـــــه دوه دی دا تـيـــار

ځـــان خبـر کـړه دَ مـقـدار لـــه حـقـيـقـت نـــه

لـــر كـــوُنـــكـــي دے ابهـــام دَ مســـاحـــت نـــه

يـــا پـــه دي بـــه ابهـــام لـــري لـــه عـــدد وي

يـــا پـــه وزن ، پيـمـانـه كښـي بـه څۀ حد وي

لـــه نسبـت دَ فـعـل لـري چـي ابهـام شـي

دويـم قسـم بـه مـكـمل پـه دي تـمـام شي

پـه عـدد ، وزن پـه كيـل او مسـاحـت كښـي

ابهـام دلتـه ختـموُي دغـه سـاعـت كښـي

دا عـمـل دَ تـمـيـز دلتـه پـوره كـار دے

ښـه ښـكـاره پـه دي صفت سره تيـار دے

چـي لـه ذاتِ مـذكـوره ابهـام كـړي لـرے

چـي لـه لـه ذاتِ مـقـدوره ابهـام كـړي لـرے

دا تـمـيـيـز دي درتـه يـاد پـه هـر مـقـام وي

ورسـره واضـحـه دلتـه هـر كـلام وي

## مفعول بهٖ

چـي قبـول كـړي دَ فـاعـل پـوره اثـر

دا مفعول به وي دَ هريو در
دَ فاعل دَ فعل هر هغه اثر
قبول کړي دَ لفظ هرخوا په هردر
چې په چا دَ فاعل فعل واقع کيږي
په مفعول به هرخواته يادېږي
دَ فاعل دَ فعل قبلوُي اثر
دا مفعول به وي دَ لراو بر

# خلاصه

ووه په جمع دا تمام تول منصوبات دي
بيل بيل دوي لره جدا خپل علامات دي
دا مطلق، له، فيه، به، بل حال دے
معه دے دَ تمييز جُدا کمال دے

# دَ فاعل بيان

کار کونکی ته فاعل په جهان وائی
کار کوُنکی ته فاعل دا انسان وائی

چې قائم ورسره فعل دَ جهان وي
دا فاعل به خامخا دَ هرمکان وي
دَ کارکولو ورته شوې چې نسبت وي
خامخا دَ هرفاعل دا حقيقت وي
يو مضمر دے بل مظهر دے بنه عيان
دوه قسمونه دَ فاعل دي په جهان
چې فاعل وي دَ جهان او ضمير نهٔ وي
ممکن نه ده چې ښکاره په تحرير نهٔ وي
دَ مظهر په نوم فاعل دغه يادېږي
هر کله چې تذکره دَ فاعل کيږي
دويم قسم له فاعلونو نه مضمر دے
هرعالم سړي له دې نه ښهٔ خبر دے
هر مضمر فاعل په دوه () قسمه کښې بند دے
مستتر دے پټ، بارز ښکاره څرګند دے
چې هرچاته په نظر تمام ښکارېږي
دَ بارز په نوم مدام دلته يادېږي

مستتر دے چي لـه دې جهان نـه پټ وي
مستتر دے چي لـه دې انسان نـه پټ وي

# فعل مجهول

## (فعل مالم يُسمّ فاعله)

چي دَ فعل فاعل نـه ښکاري بيان کښي
نـه وُجود لـري په هريو طرف جهان کښي
مختصر چي ذکر نـهٔ وي دَ فاعل
دا تعريف بيانوي هريو قائل
هغـه فعل پـه مجهول سره يادېږي
دَ فاعل ذکر چي کلـه پاتـي کيږي
دَ مفعول بـه مرفوع دلتـه حالت وي
کار کونکي دَ نائب پـه هر صفت وي
مفاعيل ورسره نور تمام منصوب وي
عبارت کـهٔ ستالوستل دلتـه مطلوب وي

★★★★★

# دَ فعل متعدی قسمونه

څلور (4) قسمه دَ فعل متعدّی دي
ښه اسان دا يادوُل په مبتدي دي
کله کله فعل غواري يو مفعول
کله دوه (2) او دري، څلور کړي هم قبول
يو مفعول ته چي محتاج وي فعل کله
قسم اول به جوړيږي پوره هله
دوه چي راشي، يو مقصد لري تمام
چي په يو سره جائز وي هم کلام
چي ختموُل په کښي مفعول د يو روا وي
دا به دويم قسم دُنيا کښي خامخا وي
يادوُل دغه پکار دي له طالب له
ښهٔ اسان دغه اشعار دي له طالب له
کله کله دوه مفعوله په دُنيا وي
حذف کول په کښي دَ يو چي ناروا وي

دا پــه دريـم قسـم يـاديــږي تـول تـمـام
پــه افـعـال کښـي دَ قـلـوب دے دا کـلام
دري مـفـعـولـه کـلـه کـلـه پـه يو دروي
عـالـمـان پـه مـثـالـونو ښـهٔ خبر وي
څـلـورم قسـم دے دغـه لـه قسـمـونـو
نـاخبـرلـره خبـرکـړه لـه رازونـو

# افعال ناقصه

نـاقـصـه افـعـال چي دي ، تـول عـامـلـه دي
مـاليـدلـي دغـه شـان پـه هر حـصـه دي
تـول په جـمع سره اُولـس (17) دا پـه شـمير دي
دَ هـوښيـارسـړي نـه کـلـه دغـه هيـردي
صَارَ(1)ظَلَّ(2) بَاتَ(3) بيا تـکي اَمْسىٰ( 4) کړه
کَانَ ( 5) اض(6)سـره بـل تـکي اَضْحىٰ( 7)کړه
نـورپـه تـکـو کښي مَادَامَ (8)مَـا فَتىٰ( 9)دي
مـازَالَ( 10)سـره مَـابَـرِحَ( 11)عَـدَا(12)دي

رَاح(13)مَا اَنْفَكَ(14)لَيْسَ(15)ټول تمام دی
اَصْبَحَ(16)عَادَ(17)حصه دَ دي کلام دی
مبتدا سره محتاج به دَ خبروی
په جمله ددي افعالو به اثروی
ځکه یاد په ناقصه دی درپه در
دوی محتاج دی دَ افعال هم دَ خبر
اسمیه جمله سره دوی ملاویږی
ښۀ پوره پوره اثرئي ښکاره کیږی
منصوب تل ساتی خبر دغه افعال
مبتدا لری مرفوع په وجود حال
دا چي دلته کښي کَانَ په هرحصه ده
ناقصه ده ، دا تَامَه اوزائده ده
رنګ په رنګ لری معني دغه افعال
ناقصه افعال دی ډك ښۀ دَ کمال

★★★★★

# افعال مقاربه

دَ افـعـالِ نـاقـصـه پـه شان عـمـل
کـوی دلتـه هـمیشـه پـه هـر مـحـل
کَادَ (1) کَرُبَ (2) اَوْشَكَ (3) بیـا عَسیٰ (4) کړه
یـاد څـلـور دغـه افـعـال تـول خـامـخـا کړه
طَـفِـقَ (5) اَخَـذَ (6) هـم جَـعَـلَ (7) بـل کـړه
دَ څـلـورو سـره دري دغـه نُـور مـل کـړه
تـول افـعـال مـقـاربـه دري او څـلـور دی
پـه تـعـداد سره تـمـام دا ووه (7) پـه کـور دی
جـوړوُی اسـم مـرفـوع پـه هـر مـقـام
مـنـصـوب هـر ځـائـي کښي خبر لـري مدام
ځـکـه دا مـقـاربـه تـول شـی بـلـلـے
دَ نـزدي مـعـنـیٰ پـه دوی کښي ده راغـلـے

# افعال مدح وذم

پـه تـعـداد څـلـور افـعـال دَ مدح وذم دی

بیـــان شـوی نـــهٔ دا زیـــات دي او نـــهٔ کـم دي

نِعْمَ(1) حَبَّذَا(2)بیـا بِئْـسَ(3)سَـاءَ (4)تـول دي

کـلـك هــریـو بشــر لـــه دا دلتـــه یـــادول دي

دوه کښـې مَـدْحَ ، بـنـهٔ صـفـت پـه هرطرف دے

دوه(2)کښــې مَـدْحَ دَ بشــر پـوره صـفـت دے

دوه(2) کښـې ذَمُّ بیـان بـدوالـے هرساعت دے

هــریـو اسـم چـې لـه دوی نـه پـس بیـان وی

هـغــه خـاص دَ مدح وذم پـه هر مـکـان وی

حَبَّـــذَا نــــه عـــلاوه چـــې دري دا نُـــور دي

څـهٔ شـرطـونـه ورلـه دلتـه کښـې پـه کـور دي

عـــامـــلان بـــه هـلـــه دوی پـه دې مـقـام وی

چـــې فـــاعـــل ســـره تـــړلـــې الف لام وی

یـــا مـــضـــاف وی الف لام تـــه تـــه وروه!

یــا فــاعــل لـرونـکـی ضـمـیـر مستتـر وی

چـې تـمـیـیـز ئـې نـکـره مـنـصـوبـه در وی

مــختــصـــر دغـــه عـمـل دَ ددې افـعـال دے

بيــان كــړي مــختــصـر دلتـــه مـا حـال دے

# افعال تعجب

تــعــجــب چــي ورســره پـــه هــر مـحـل وي
دا افـــعـــال دَ تـــعــجــب پـــه نــوم بـدل وي
دوه (2) صيـغـي دد تـعـجـب لـــه هر مصدر وي
ثـــلاثـــي چـــي مـــجـــرد دَ لـــر او بـــر وي
چي مـعـنـىٰ پـه كښي د عيب نۀ وي دَ رنګ
دلته دوه 2صيـغي راتلي شي څنګ په څنګ
مَــا اَفْــعَـلَــه (1) صيـــغـــه پـــه كښـــي اول ده
دَ اَفْـعِـلْ بِــهٖ (2) صيـــغـــه پـــه دي مـحـل ده

★★★★★★

# دَ اسماءِ عامله بیان

(وړومبي قسم)

## اسماءِ شرطیه

په تعداد سره ټول نهه (9) په جهان دي
شرطیه اسماء چي څومره هم بیان دي
اَیَ (1) اَیْنَ (2) اَنّٰی (3) بیا ټکي مَتی (4) کړه
اِذْمَا (5) حَیْثُمَاَ (6) مَهْما (7) ټکي بیا مَا (8) کړه
مَنْ (9) ملګري شرطیه اسماء دَ پاره
تمام پیژني هوښیاره، خبرداره
راولي په مضارع مدام جَزَم
دا اسماء ټول شرطیه ددي عَالَم
دوي دَ اِنْ معنیٰ لرونکي ټول تمام دي
ځکه یاد په شرطیه اسماء مدام دي
داخلیږي په جمله پوره تمام
خلق پیژني خواص دغه عوام

ښـکـاري دا پـه هرطرف دلتـه دُنيا کښې
هم په شرط کښې شی مونډلې هم جزاء کښې
شـرط ، جـزاء هـم جـوړوی پـوره مـجـزوم
دا احـکـام دی دَ يـادولـو ټـول مـنـظـوم
پـه مـعـنیٰ دَإنْ اسـمـاء هغـه تمام دی
شـرطيـه لـره راغـلـی چـې مـدام دی

# (دويم قسم) اسماءِ افعال

(دَ ماضی په معنیٰ)

چـې مـعـنـیٰ لـري دَ فـعـل هـرساعـت
خـو پـه کښې نـه وي دَ فـعـل عـلامـت
داسـې اسـم يـا اسـمـونـه ټول تـمـام
پـه اسـمـاء بـه دَ افـعـال يـاد وي مـدام
دوه قسـمـونـه لـري داسـې ټول اسـمـاء
دا افـعـال پـه زمـانـو دی ټـول جُـدا
پـه مـعـنیٰ بـه دَ مـاضـی وي کـلـه کـلـه

نــه وی کـلــه چـې امــر حــاضـرپـه خپـلـه
مــرفــوع اسـم جـوړوی پــه عبـارت کښـې
دغــه اسـم وی فــاعــل پــه حـقـیـقـت کښـې
دَ مــاضـی مـعـنـیٰ لـرونـکـې چـې وی اسـم
پــه قـسـمـونـو کښـې اول شـولـو دا قـسـم

# (دريم قسم) اسماءِ افعال

(دَ امر حاضر په معنیٰ)

دَ امــر حــاضــر مـعـنـي سـره پــه څـنګ
اسـم هـغــه چـې ئـې دا وی دلتــه رنګ
دا پــه اســم راولــی مــدام نــصــب
ځــان کــړه پـوهــه پـه مـعـنیٰ او پـه مـطـلـب
ډیـر اسـمــاء پــه دې مـعـنیٰ دلتـه راغـلـی
کـتــابــونــو کښـې مــاډیـر دغــه لیـدلـی

# (څلورم قسم) اسمِ فاعل

یـو اسـمِ فــاعــل راغـلـې پــه دُنـیـا کښـې

چې دَ حال يا استقبال وي په معنىٰ کښې

لکه څنګ چې معروف فعل کړي عمل

دغه شان اسمِ فاعل لري محل

دَ عمل د پاره دغه شرط بُنياد دے

چې په شپږ ځيزه دۀ کړې اعتماد دے

اعتماد دَ پاره يا به مبتدا وي

يا موصوف ، موصول سره به په دُنيا وي

حرف دَ نفي يا همزه دَ استفهام کړه

اعتماد ئې په ذوالحال سره تمام کړه

دغه شپږ ځيزونه خامخا کړه ياد

دَ اسمِ فاعل عمل له دے بُنياد

# (پنځم قسم) اسمِ مفعول

په اسماءِ عامله کښې دے مفعول

عاملانو کښې ليدې شي په معمول

دَ مجهول فعل په شان به دۀ حال وي

په معنیٰ چې دي دَ حال يا استقبال وي
لکه څنګ چې دَ مفعول فعل عمل کړي
مفعول اسم داسي جوړ به خپل محل کړي
چي په شپږ ځيزه ددۀ بنۀ اعتماد وي
په عمل سره به پوخ ددۀ بُنياد وي

## (شپږم قسم)صفت مُشبّه

په اسماء کښي يو صفتِ مُشبَه ده
علامانو کښي ددۀ هم تذکره ده
په پنځۀ ځيزه ددۀ چي اعتماد وي
هله دلته په عمل کښي به آزاد وي
دَ موصوف ، همزه سره جمع ذوالحال کړه
مبتدا ، صفت را جمع دَ کمال کړه
دَ لازم فعل په شان ددۀ عمل وي
فاعل هرخواته مرفوع به ددۀ خپل وي

★★★★★

# (ووم قسم)اسم تفضيل

دَ اسمِ تفضيل نه ځان کړه ښهٔ خبر
ښهٔ پوره پوره ساته په دهٔ نظر
شمير اسماءِ عامله کښې په هر در دے
کار کوُنکي په دُنيا کهٔ دې نظر دے
دَ فعل په شان مدام عمل کوُنکي
خپل فاعل له رفع دې ورکوُنکي
پټ فاعل به ددهٔ دلته کښې اکثر وى
دا ضمير په هرطرف به مستتر وى
کله کله وى په مِن يا الف لام
اضافت سره ليدي شى داتمام
درې په هرطرف ذکر دا طريقې دى
نورې نيشته، بس تمامې دغه درې دى

# (اتهم قسم)اسم مصدر

په اسماءِ عامله کښې يو مصدر دے

دَ خپل فعل په شان دۀ کښې پروت اثر دے
لکه څنګه چې دَ فعل خپل اثر وي
خامخا دغه کردار به دَ مصدر وي
چې مطلق مفعول موجود نه وي جمله کښې
مصدر هله به عامل وي دي حصه کښې

# (نهم قسم) اسم مضاف

يو اسماءِ عامله کښې يو مضاف دے
مجرور کول ددۀ صفت سره انصاف دے
چې مضاف اليه ته جرورکړي دُنيا کښې
دَ مضاف دغه عمل وي په وينا کښې

# (لسم قسم) اسم تام

عامله اسماء کښې يو دے اسم تام
دي منصوب لري تميز په هر مقام
تام چې کلمه په څيزونو وي ځلور
هله اسمِ تام، تمام وي په هر لور

پــه تــنــويــن يــا اضـــافـت سره بــه تـام وي
تثـنيـــه ، جـمـع ، نـونـونـــه چـې مدام وي
كـلــه وي چـې دا ځلور پــه يو مقام كښـې
مضاف نـه بـه شـي هيڅ كـلـه پـه كلام كښـې

# (يؤولسم قسم)اسماءِ كنايه

ټول اسـمـاء چـې پـه دُنـيـا كښـې عـامله دي
څـــهٔ اسـمـــاء پـه كښـې راغـلـي كـنـايـه دي
دوه لـفـظـونـــه كـنـــايـــه بــه لـــه عدد وي
مـــكـــمـــل جـمـلـې ددغـې پـــه مـدد وي
كَـمْ ، كَـذَا تـېـكـــي دي هـيـــر نـــهٔ شـي تـمـام
پـــه جـمـلـو كښـې ورسـره كيـږي كـلام
بيـــا د كَـمْ قسـمـونـــه دوه دي هـرطـرف تـــه
د دوي بيـــل نـومـونـــه دوه دي هـر طرف تـه
خبــريـــــه كَــمْ اول قسـم دے تـمـــام
بـــل قسـم كَـمْ لـــره دے دَ استــفهـــام

کلـــه کَمْ د استــفهـــام چــې کــړي طـلـب
تــمــیــیــز دلتـــــه ورســــره لـــري نـــصـــب
دا کَـــذَالــــکـــــه دَکـــم دے پـــــه هـــر در
تـمـیـیـز دلتــه کښـي مـنـصـوب وي سراسر
خبــــريـــــه لـــــري جُـــدا پــوره عـــمـــل
جـــر تـــمـیـیـــز تـــه ورکـــوي پـــه هـــر مـحـل
خبـــريـــــه تـــمـيـيـــز مـجـــرور لـــري مـدام
تـــل مـــنـــصـــوب بـــه وي تـمـيـيـز دَ استـفهــام
مِـنْ راځــي پـــه خبــريـــه کښـي کـلـه کلـه
نـور پــه دي بـانـدي کــړه ځــان پـوهــه پخپلـه

# دَ توابع بيان

چــي مـلـګـري دَ اول لـفـظ وي اعـراب کښـي
خـو راغـلـي دويـم نـمبـر وي پـه حـسـاب کښـي
دا تــــابــع ســـره پــــه نـحـو کښـي يــاديـــږي
متبـوع لـفـظ ورنـــه چـــي مـخکښـي بيـانيـږي

دا تــابــع دے تــابــعــدار دَ مـخـکښې لـفـظ
دويم نمبـر لـري پـه شمـار د مخکښې لفظ
په اعـراب کښې بـه يـو شان وي په دُنيا کښې
چې متبـوع نـه تابـع وروستـو وي وينا کښې
پـنـځـه قسـمـه دَ تـابـع پـه حقيـقت دي
هـم تـاکيـد ، بـدل مـلـګـري دَ صـفـت دي
عـطف حـرف سـره بـل عـطف دَبيـان کـړه
دَ پـنـځـو قسـمـونـو جوړ دغـه ګردان کـړه
پـه دوه قسـمـه هـر صـفـت ددې دُنيـا دے
هـريـوقسـم لـه بـل قسـم نـه جُدا دے
يـو ذات حـالـت دَ پـاره چـې ښـکـاره کـړي
چـې دَ ذات کـړي پـه دُنيـا ښـکـاره حـالـت
دا قسـم اول جـوړيـږي دَ صـفـت
دَ متبـوع سـره چې پـروت پـه حـقيـقت وي
لـس() څيـزونـو کښې يـوشان به دا صفت وي
مـعـرفـه ، نـکـره دوه اول بـه دا وي

مــذكــر ، مــونــث دوه بــه د دُنيــا وي
يـو مـفـرد بيـا تثـنيـه جـمع كـړه بلـه
ياد مرفوع ، منصوب ، مجرور ساته پخپله
دَ صفت دے دويم قسم پـه حقيقت كښـې
چې ظـاهـر متـعـلق شي عبـارت كښـې
ټول پنځه ځيزونه ياد ساته دُنيا كښې
ضـروري پـه كښـې يـووالے دے وينا كښې
مـعــرفــه هـم ، نــكـره ده مـعـتبـر
يـاد مرفوع ، منصوب ، مجرور كړه په بشر
َ تـاكيـد دي پـه دُنيـا كښـې دوه قسمـونـه
مـعـنـوي سـره تـاكيـد كـوي لـفظـونـه
چې يو لفظ راشي جملـه كښې پـه تكرار
دا لـفـظـي تـاكيـد يـاديـږي پـه هـر دار
معنوي تاكيد اتهه (8) لفظه كښې بند دے
هريو لفظ په كښې واضحه بنۀ ځرګند دے
نَفْسٌ (1) عَيْن (2) سره كُلٌ (3) كِلَا كِلْتَا (4) كړه

اَجْـمَـعُ (5) سـره اَبْـصَـعُ ( 6) لـفـظ ادا كـړه
اَكْتَعُ( 7) اَبْتَـعُ ( 8) شـميـر كـړه پــه هــر در
دا اتهـــه(8) لـــفـظـونـــه تـول دي مـعتبـر
پـه څلور ( 1) قسـمـه اقسام تـول دَ بـدل دي
بـعض ( 1) او كُلْ ( 2)سره ياد شوي پـه اول دي
يو بَدُلُ الْغَلَطْ ( 3)دے ، بل كړه اِشْتِمَالْ( 4)
جُـدا حـكـم لـري هـريـو جُـدا حـال
چـي متبـوع ، تـابـع وي دواړه يو څيـزونـه
بـدل الـكـل سـره بـه كيـږي ګـردانـونـه
چـي تـابـع دَ متبـوع جـزء يـوه حـصـه وي
دَ بـدل الـبـعـض بـه دا يـوه جـمـلـه وي
دَ تـابـع متبـوع دَ پـاره چـي بيـان وي
چـي نـهٔ جـزء وي او نـهٔ كُـل ددي جهـان وي
پـه بـدل الاشتـمـال هـرخـواتـه يـاديـږي
ډيـر بـه كم وي چـي پـه دغـي نـهٔ پو هيـږي
چـي تـابـع متبـوع نـه تـول جُدا جُدا وي

دا بدلِ الغلط به دلته خامخا وي
يو عطف بحرف تابع په دې جهان شته
چې تابع، متبوع مقصود وي دابيان شته
اول جزء معطوف عليه وي دَ كلام
نمبر دويم وي دَ معطوف په دې مقام
عطف نسق سره هم ياد په جهان دے
كلمه په عطف حرف بيان دے
چې تابع، نۀ وي په يو طرف صفت
دَ عطفِ بيان دے دغه حقيقت
چې متبوع له ښكاره كړي برابر
دَ عطفِ بيان مدام وي دا اثر
دا پنځه (5) قسمونه تول شولو بيان
ياد دې كړي د مدرسې دا طالبان

# دَ منصرف او غير منصرف بيان

دوه اسبابه نۀ لري چې په وينا كښې

مـنـصـرف سـره يـاديـږي پـه دُنيـا كښـي
چــي مــالك وي پــه دُنيــا د دوه اسبــابـو
ټــكــى داســي خــامــخــا دَ دوه اسبــابـو
ورتــه غيــر مـنـصـرف وائــى ټـول عــالـم
دوه اسبــاب لــري هــرخــوا پــه هــر قــدم
يــو سبــب لــري يــا داســي بنــهٔ تــمــام
چــي نــائــب دَ دوو دَ پــاره وي مــدام
نهـه ( 9) ټـول دَ منـع صـرف جمع اسباب دي
پـه تـفـصيـل سـره مـوجـود پـه هـر كتـاب دي
عدل( 1)وصف(2) هم تانيث( 3)او معرفه( 4) ده
تـركيب(5)وزنِ فعل( 6)جمع(7) هـم عـجمه(8) ده
زيــات چــي وي الف او نـون ( 9) ددي جهــان
دا اسبــاب دَ مــنــع صـرف دي بنــهٔ عيــان

★★★★★★

# دَ حروف غير عامله بيان

## حروفِ تنبيه

پـــه اَلَا (1) اَمَــا (2) او هَــا (3) شــــه خبــردار
دَ تــنبيـــــه تــکــى تــمـــام دي دَ ګــفــتـــار
پـــه تــعــداد ســـره دا دري تــمـــام حــرفــونــه
خـــالــي نـــۀ دي لـــه دي نـــه عبـــارتـونــه

## حروفِ ايجاب

شپــږ حــرفــونــه پــه دُنيا کښــي دَ جــواب دي
دا تــمـــام ليــکــلـى دلتـــه کښــي کتـــاب دي
نَعَمْ (1) جِيرَ (2) اِيْ (3) نه پس تکي بَلٰى (4) دے
اِنَّ (5) اَجَــلْ (6) ورســـره مَــل پـــه دُنيـــا دے

## حروفِ تفسير

دوه حــرفــونــه پــه هــرځــائي کښي دَ تفسير دي
اَيْ (1) او اَنْ (2) مـونـدلـي شـوى پــه تحرير دي

پــه تــعــداد ســره مـدام دلتــه کښــې دوه دي
پـه هــرلــورپــه هــرمـقـام دلتـه کښـې دوه دي

## حروفِ مصدريه

پـــه مــعـــنــیٰ بــدلــوی فــعــل دَ مــصـــدر
مــولــیٰ ايــخــې پـــه دې تــکــو کښـــې اثــر
داکـمـال د مَـا (1) او اَنْ(2) پــه هــر مکـان دے
دَ مــصــدرپـــه مـعـنیٰ بيـا فـعـل بيـان دے
پـــه جـــمـــلـــه اســميـــه اَنَّ داخــليـــږی
دَ مـــصـــدر مـــعـــنـــیٰ ورســـره پيـداکيـــږی

## حروفِ تخضيض

دَ تــخــضـيــض دَ پــاره ټول ټـکـی څلـوردی
اَلَّا (1) هَلَّا (2) يـــاد کـــړه، دوه ورســـره نُـور دی
لَوْلَا ( 3) لَـوْمَـا (4) دَ تـخـضيـض سره مدام وی
کــلـــه کــلـــه هــم پـــه دې ســره کــلام وی

# حرفِ توقع

دَ اُميد او توقع دَ پاره قَدْ دے
په ماضي کښې دَ تحقيق په معنىٰ بد دے
مضارع کښې دَ تقليل معنىٰ ددۀ وي
کله کله استعمال ددۀ هم بنۀ وي

# حروفِ استفهام

درې حرفونه په دُنيا دَ استفهام دي
دَ تپوس دَ پاره دا تکي مدام دي
همزه () هَلْ ، ورسره بيا تکي دَ مَا دے
دَ تپوس دَ پاره هر تکي اعلا دے

# حرفِ ردع

حرفِ ردع يو کَلّا تکي دے دا دے
په حقّا سره ادا هم په دُنيا دے

★★★★★

# حرفِ تنوین

ټول پنځه قسمونه جوړ دَ هر تنوین دی
تمکن، تنکیر، عوض تمام حسین دی
تنوین شته مقابلي له په عالم
بل تنوین شته دے پنځم دَ ترنم

# نونِ تاکید

دَ تاکید دَ پاره کَل چي نون راشی
دوه قسمونه درته یاد به خامخا شی
په بدن چي مشدد وی ثقیله دے
چي ساکن په خپل بدن وی خفیفه دے
په معنیٰ تل دَ تاکید دَ پاره دا دی
دوه نونونه هرطرف ته په دُنیا دی
راځی دواړه دَ فعلونو په اٰخر کښي
نه راځی دا دَ اسمونو په اٰخر کښي

# حروفِ زيادت

اِنْ (1)اَنْ(2)مَا(3)او لَا(4)سره کړه بيا(5) او لام(6)
کاف( 7) اومِنْ (8) دی زائده ټکی تمام
دَ زيادت په نوم ياد شوی دا حرفونه
عامله اسماء کښې نۀ دی دا ګلونه

# حروفِ شرط

دوه حرفونه شرط دَ پاره په دُنيا دی
لَوْ اَمَا ( 1) اَمَّا (2) سره راغلی دا دی
دوی جزاء کښې فاء په ټول جهان کښې
شرط به تاليدلې وی د دوی بيان کښې

# حرف لَوْلَا

يو لَولَا دے دغه غيرِ عامله دے
دَ جملې نفی د پاره په نقشه دے

★★★★

# لام مفتوحه

يو مفتوح دے په دُنيا کښې هغه لام
چې معنې لـه دَ تاکيد راشی تمام
هم دا ټکي شمير دے غيرِ عامله کښې
درنه هيرنهٔ شی بيان په يو حصه کښې

# مَا ( د مَادَامَ په معنیٰ)

په معنیٰ د مَا دَامَ سره چې مَا وی
دا به غيرِ عامله کښې خامخا وی

# حروفِ عطف

لس حرفونه ټول تمام دَ عاطفه دی
مددګار په هر طرف دَ هر جمله دی
واو(1) اَوْ (2)فَا(3) نه پس ثُمَّ(4) ، حَتّٰی (5) اَمَّا (6) دی
لٰکِنْ (7) بَلْ (8) نه پس ټکی د اَمْ (9) او لَا(10) دی

★★★★★★

# دَ مستثنیٰ بيان

لفظ چې وروستو ، حرفونو استثناء وی
مستثنیٰ به هغه اسم خامخا وی
بنده دوه قسمه کښې هريو مستثنیٰ ده
متصل يا منفصل سره ادا ده
چې د اِلّا نه پس کومه استثنیٰ وی
دا په ذات او په صفات سره جُدا وی
منقطع ورته وئيلې په دُنيا شی
طلبګار چې څوك ددغې استثنیٰ شی
مستثنیٰ ، مستثنیٰ مِنْه سره مَل کړه
متصل سره بيان خپل مکمل کړه
مستثنیٰ کښې بل تقسيم په لراو بر شته
دَ هريو طالب په دې پوره نظر شته
دوه قسمونه دلته کښې تمام جوړيږی
مفرغ ، غير مفرغ سره يادیږی

مستثنیٰ منه چې نۀ لري دُنیا کښې
ورته وائی مفرغ هره وینا کښې
مستثنیٰ منه چې ښکاري په نظر ستا
مستثنیٰ غیر مفرغ ده دَ هردر ستا

# اختتامي دُعائیه کلمات

شکر خدایه! چې تمام شولو کتاب
ښۀ پوره پوره تمام شولو هر باب
شکر ربّه! ستا په دې مقام ښۀ ډیر
نۀ دے نۀ دے رانه شکر دلته هیر
ورسره درود سلام په پاك حضور ﷺ
دَ اسلام دَ هدایت کامله نور
هم درود په محمد عربی تل
سلامونه په هغوي په هر محل
سلامونه دې په آل وی دَ رسول ﷺ
ربّه! غواړم چې دا هرڅه شی قبول

په اخر کښې یو ځل بیا دَ ربّ صفت
دا عمل مې کړې سبب دَ مغفرت
خدایه شکر دې اُو باسمه بار بار
هم په پټه پټه دلته هم په جار

★★★★★★★★★★★★★★★★★★

ربّنا تقبّل منّا انّك انت السميع العليم
وتب علينا انك انت التوّاب لرحيم .
تمت بحمد اللّٰه وعونه وبتوفيقه
وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد واٰله
واصحابه اجمعين

★★★★★★